انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱٦/۰٦/۲۲

# د افغانستان په هکله د آزادۍ د خونې

(Freedom House)

## ژباړن او لنډونکی: انجنیر سلطان جان کلیوال

## د راپور ژباړه او لنډیز

لمړی برخه

د ۲۰۱۵ کال خپرونه:



لومړی د دی مؤسسي په هکله: د فریډم هوز یا د آزادۍ خونه یوه خپلواکه غیری دولتي مؤسسه ده چي مرکزي دفتر یې د متحده ایالاتو د واشنګټن د کولمبیا په سیمه کی دی او نور لوی دفترونه یی په نیویارک، اردن، قرغزستان، مکسیکو او د جنوبي افریقا په هیوادونو کی موقعیت لری. دا مؤسسه د ۷۵ کلونو راهسې په ټوله نړۍ کې د دموکراسی ،د انسانی آزادیو او بشری حقوقو څارنه، پلوې او تر ممکنه حده ساتنه او د فاع کوې. نوموړی مؤسسه په ټوله نړۍ کی دموکراتیک بدلونونه د سیاسی او مدنی حقوقو د تامین او آزادیو له پلوه څیړي او مکملي څیړني وروسته هر هیواد ته د بشرې حقوقو د تامین او یا نقض له مخی نمری ورکوی چی د یوی (۱) نمرې ګټل د بشری حقونو تامین او آزادی لوړ معیار او په تر تیب سره د اوو (۷) نمرو ګټل په یوه هیواد کی د بشری حقونو د تامین تر ټولو بد او ناوړه حالت را په ګوته کوی. برسیره پردی دا مؤسسه په بیلا بیلو هیوادونو کی د بشری حقونو د تامین ملاتړ کونکو سازمانونو او اشخاصو ته د امکان تر حده د مرستو او همکاریو لاس هم ور غزوی. د دی مؤسسي فعالیتونه د تحلیل او ارزوني، مدافعی او ساتني او د لزوم په وخت کی د عمل او مداخلي په بڼه هم صورت نیسی.

د دی مؤسسي د راپور له مخی په تیرو لسو کالو کی بنو ول شویده چی: د امریکا په لویه وچه ( شمالی، مرکزی او جنوبی امریکا )کی په مجموع کی (۷۱٪) خلک د پوره آزادۍ نه برخمن دی او (۲۹٪) نور وګړی یی نسبی آزادی لری. د اروپا په لویه وچه کی، په غربی اروپا (۸۶٪) خلک پوره آزادی لری او (۱۴٪) د نسبی آزادی نه برخورداره دی. په شرقی اروپا او روسیه کی یواځي (۱۰٪) وګړی نسبی آزادی لری. د آسیا د لوی وچی په منځنی ختیځ کی (۵٪) خلک نسبی آزادی لری او پاتي نو ریی له هر ډول آزادی نه محروم دی. د پاسفک د حوزی په هیوادونو کی (۳۸٪) خلک پوره آزادی دی، (۱۸٪) نسبی آزادی لری او پاتي (۴۶٪) د آزادۍ نه محروم دی. د افریقا په لویه وچه

کی (۱۲٪) خلک پوره آزادی لری، (۵۰٪) نسبی آزاد دي او پاتی (۳۸٪) د آزادی نه محروم دي. د استرالیا او نیو زیلاند په حوزه کی مکمله آزادی موجوده ده او د ژوندانه ټول اړخونه په دموکراتیکه توکه پرمخ تګ او وده کوی.
په مجموع کی د نړۍ په (۱۹۵) هیوادونو کی، په (۸۹) هیوادونو کی (۴۶٪) پوره آزادی لری، په (۵۵) هیوادونو کی (۲۸٪) نیمه ازادی لری او په (۵۱٪) هیوادونو کی (۲۶٪) خلک د آزادئ نه محروم دي.
د آزادی نه محروم خلک د ځمکي په مخ د بل هرځای نه زیات په تیرو لسو کلونو کی په منځني ختیځ او شمالی افریقا کی ول او د د آزادی نه ډیر محروم خلک چی په ډیرو ناوړو شرایطو کی ژوند کړیدی هغه د مرکزی افریقا د هیوادونو لکه د ګیبانا، اریتیریا، سومالیا او سودان وګړی دی او همدا رنګه د افغانستان په شمول د آسیا د لوی وچي دځینو هیوادونو لکه شمالی کوریا، سعودی عربستان، سوریه، ترکمنستان او ازبکستان خلکو په ډیرو ناوړو او بدو حالاتو کی ژوند کړیدی.

### د افغانستان په هکله د دی مؤسسی څیړنه:

دی نړیوالې مؤسسې د نورو هیوادونو په ترڅ کی په تیرو لسو کالو کی د افغانستان په هکله هم څیړنی کړیدی او په دی هیواد کی یی د دبشری حقونو او انسانی ټولو آزادیو په برخه کی یو مفصل راپور په ۲۰۱۵ کال کی خپور کړیدی چی ژباړنه یی په اختصار سره درنو لوستونکو ته وړاندی کوم:
د دی راپور له مخی افغانستان د بشری حقونو او انسانی فردی آزادیو او همدارنګه د ژوندانه اسانتیاو ته د لاس رسي له پلوه، له بده مرغه د (۱۹۵) هیوادونو په منځ کی هغه هیواد دی چی (۱۹۲) وم موقف لری، یعنی له ښکته لوري نه دریم ځای لری. افغانستان د اتباعو د شخصی آزادئ په برخه کی (۶) نمری، د مدني حقونو د تامین په برخه کی (۶) نمری او د سیاسی حقوقو په لرلو کی هم (۶) نمری لری، چی په دی توکه زمونږ هیواد د هغو هیوادو له ډلی څخه دی چی اتباعو یی په تیرو لسو کلونو کی د ژوندانه په سختو او ناوړه حالاتو کی شپي تیری کړیدي. افغانستان له تیرو لسو کلونو را په دی خوا تر ننه پوری په پرله پسی توکه د ټولنیز ژوندانه په هره برخه کی نزولی قوس وهلی، حالات د یوه کال نه بل ته پسی خراب شوی او د خلکو ستونزي د یوی ورځي نه بلی ته زیاتی شویدی.
له هغه وخته چی طالبانو د سقوط نه وروسته، بیا سر راپورته کړیدی د هیواد (۱۰٪) ساحه او نفوس د دوی د دا یمی کنترول لاندی او (۱۰٪) نوره د طالبانو او دولت تر منځ د جګړو په نتیجه که د یوه قوت نه بل ته او د بل نه بل ته د انتقالی برخی په توکه پاتی شویده.( اسیا فونډیشن راپور). نو له همدی کبله د آزادئ خوني دا راپور هم د افغانستان هغه برخی په برکی نیسي چی هلته د ژورنالستانو تګ راتګ امکان لری، نو همدا وجهه ده چی ژورنالستانو ته د زیاتو خطراتو د متوجه کیدو له کبله د ښارونو او حکومتي مرکزونو نه لری په کلو او بانډو کی د وسله والو ډلو د زورزیاتي په سبب چی ژور نالستان ورته نه شی ورتللی معلومات دومره کم دی چی په نشت حساب دی. همدارنګه په تیرو لسو کلونو کی هغه سیمی چی د (ناتو) د ځواکونو او یا د افغان پوځی قطعاتو په مستقیم کنترول کی وی، یواځی هغو ژورنالستانو ته د ورتللو اجازه ورکړ شویده چی د پوځی قوماندان په خوښه یی د راپور جوړولو ته غاړه ایښي ده، هغو ژور نالستانو ته چی د سیمی د خلکو د ژوندانه او د هغوی سره د دی پوځی چاروکو د چال چلند په هکله سم معلومات او د ستړګو لیدلی حال رسنیو ته ورسوی قطعاً اجازه نه ده ورکړی شوی. له دی کبله د افغانستان د هغو خلکو د ژوندانه تصویر چی په اطرافو کی ژوند کوی، په دی راپورکی ډیر تت او تیاره دی. باید و ویل شی چی ورکړ شوی نمری یواځی د د هغو سیمو په هکله دی چی هلته د ژورنا لستانو د ورتللو لړو ډیر امکانات موجود ول او یا هم په مطلقه توکه د دولت تر تسلط لاندی ول.

که څه هم دا اپور د دولتي تسلط لاندی سیمو کی د هیواد د اطباعو د ژوندانه د طرز او د بشری حقونو تامین تصویروی، خو بیا هم افغانستان د هغو هیوادونو په ډله کی راځی چی د انسانی ژوندانه د معیارونو سره د دی هیواد د خلکو ژوند یا هیڅ اړخ نه لګوی اویا هم ډیر کم اړخ لګوي.

د ټولو لسو کلونو په اوږدو کی د ژور نا لستانو سره ناوړه چلند، د هیواد عامو وګړو ته د جګړو له کبله د زیات مرګ ژوبلی اوښتل او ورته رسیدلی تاوانونه، د ښځو د حقوقو د پښو لاندی کیدنه او د یوی ورځی نه بلی ته یی په ژوندانه کی د لازیاتو ستونزو پیدا کیدل، د هیواد په ټوله جغرافیه کی د تروریستی حملو شدت، د (۲۰۱۴) کال د جمهوری ریاست او ولایتی شورا ګانو ټول ټاکنو کی د ډاکټر اشرف غنی او ډاکټر عبدالله د ټیمونو تر منځ یو پربل په ټاکنو کی د پراخه درغلیو تور لګونه او د ټاکنو د پروسی بی نتیجی اوږدوالی، اداری فساد، د مخدره موادو تولید او قاچاق، بیکاری او د انسانانو تښتول او نور په لسګونو زوروني هغه څه ول چی چی د دی هیواد خلک یی د سختو ستونزو او مجبوریتونو سره مخامخ کړی وو.

سیاسي بي ثباتي او د ناتو د هیوادونو دي پریکړې چی د (۲۰۱۴) تر پایه به خپل قوتونه د افغانستان نه باسی په اقتصادی حالاتو ناوړه اثر وکړ، د افغانی ارزښت د( ۲۰۱۳) دسمبر په میاشت کی ډیر راټیټ شو، دولت د خپلو (۵۰۰) زرو ملکي مامورینو ته د معاش ورکولو په برخه کی ناتوانه شو.

کله چی د متحده ایالاتو د ( یو اس اید) د مالیی وزارت ته (۷۵) ملیونه ډالره مرسته ورکړه نو دا ستونزه تر یوه حده اواره شوه. جمهور ریس ډاکتر اشرف غنی د دی د پاره چی دولت یی د نړیوالو د له منځه تللی باور بیرته تر دلاسه کړی، په ډیرې چټکی سره یی د متحده ایالاتو سره د ګډو همکاریو هغه تړون چی مخکینی جمهور ریس یی له امضاء کولو نه ډډه کړی وه امضاء کړ. جمهورریس هڅه وکړه چی تر ټولو د مخه هغه اقتصادی او مالي لړزان حالت ته چی د ده دولت ورسره مخامخ و خاتمه ورکړی او یایی لږ تر لږه ورغوي نو په ډیر تلوار سره یی امر وکړ چی د کابل بانک د (۲۰۱۰) کال د اختلاس موضوه باید چی په (۴۵) ورځو کی حل وفصل شی. که څه هم د خاصی محکمې له خوا د کابل بانک ځینو لوړ پوړو چارواکو ته چی اختلاس یی کړی و، د جزا ګانو او د تښتول شوو پیسو د بیرته تادیه کیدو فیصلي وشوې خو په مجموع کی جمهور ریس و نه توانیده چی دا موضوع حل و فصل کاندي.

حالاتو ته د کتني نه داسی ځرګنده شوه چی جمهورریس اشرف غنی ونه شو کولای چی د انتخاباتي مبازو په جریان کی د ولس سره د کړو ژمنو ځلورمه برخه هم سرته ورسوې. برسیره پردی د ملی دولت تر نامه لاندی د جوړی شوی اداری دواړه چارواکي ټیمونه (غنی او عبدالله) په دی کی پاتی راغلل چی په خپل منځ شوي ژمني عملی کړی او هغه واټن چی د خلکو او دولت تر منځ موجود و له منځه یوسی، نه یو اځی دا چی له منځه یی یو نه وړلئ شو بلکی لاپسی زیات هم شو.

د آزادی د خوني را پور په افغانستان کی د (سیاسي حقونو او مدني آزادیو) تر عنوان لاندی په دی توګه خپور شویدی:

**لومړی ــ ســـــیاســـی حـقـوق.**

الــف ــ ټاکــنـیـــزه پروســـــه: د افغانستان د قانون له مخي جمهور ریس په مستقیمه توګه د خلکو له خوا د پنځو کالو د پاره ټاکل کیږی او یو شخص کولی شي چی په پرله پسی توګه دوه کرته د رایو د کټلو په نتیجه کی دا مقام تر لاسه کړي. ټاکلی جمهور ریس د کابیني وزیران ټاکی او د پارلمان(ولسی جرګي) د غړو رایو د تر لاسه کولو په نتیجه

کی وزیران په رسمي توګه په کار پيل کوي. که کوم نوماند وزير د پار لمان درايو په ګټلو کی پاتی راشي نو جمهور ريس بل تن د رای اخستني د پاره ورمعرفي کوي.

د پارلمان د ولسي جرګې د پاره (۲۴۹) غړي د پنځه کلنې مودي د پاره د خلکو د مستقيمو رايو ورکولو له مخې ټاکل کيږی. د مشرانو جرګه (۱۰۲) غړي لري چی له دريو څخه دوه برخې يی د ولاياتی شورګانو له لوری د دری يا څلورو کلنو د پاره معرفي کيږي او پاتی دريمه برخه يی د خمهور ريس له خوا د پنځو کلونو د پاره انتصابيږي. په ولسي جرګه کی لس چوکی د کوچيانو چی دری تنه به پکی ښځينه وی او په مجموع کی په ولسی جرګه کی (۶۵) څوکی د ښځو د پاره مشخصي شوي او په مشرانو جرګي او ولاياتی شورا ګانو کی هم د ښځو د پاره سيټونه ځانګړی شويدی.

د (۲۰۱۰) د سپتمبر د مياشتی پارلماني ټاکني د ډيرو نيمګړتياو سره يوځای په داسی حال کی چی د پراخه درغليو راپورونه ورکړل شول او ډير کم شمير خلکو په ټاکنو کی برخه درلوده تر سره شول. جمهور ريس حامد کرزی د پارلمان پرانستنه د(۲۰۱۱) د جنوری د مياشتي پوری وځنډوله. د هغو (۶۲) وکيلانو په هکله چی په ټاکنو کی پری د درغليو ادعا ګاني شوی وی، د اختصاصی محکمې فيصله د (۲۰۱۱) کال د اګست په مياشت کی صادره شوه، چی له مخی يی يواځی (۹) تنو وکيلانو خپل سيټونه په پارلمان کی له لاسه ورکړل.

د (۲۰۱۴) د جمهوری رياست د ګټلو دپاره (۱۴) تنه نوماند ول چی (۳) تنه د رای اچونی د پيل نه د مخه تير او تر شا شول، د ټاکنو په لومړی پړاو کی هيڅيا هم (۵۰+۱) رايی ونه ګټلي. ډاکټر عبدالله په دی پړاو کی (۴۵) او ډاکټر اشرف غنی (۳۲) سلنه رايی ترلاسه کړی. د دی دوه تنو تر منځ د ټاکنو وروستئ پړاو جون د مياشتی په (۱۴) نيټه پيل شو. په دی پړاو کی د مخالفينو د سختو تهديداتو سره سره بيا هم ډيرو کسانو په ټاکنو ونډه واخستله. د ټاکنو په بهير کی (۱۰) تنو امنيتي ساتونکو او (۲۰) تنو ولسی وګړو خپل ژوند له لاسه ورکړ. د هرات په ولايت کی د طالبانو له خواد رای ورکونکو د ګوتو غوڅولو راپورونه هم ورکړل شول. کله چی د ټاکنو خپلواک کمسيون د رايو د شميرنی لومړني (مقدماتي) نتايج اعلان کړل، ډاکټر اشرف غنی د خپل سيال ډاکټر عبدالله څخه (۱۰) سلنه زياتی رايی ګټلی وی. د نتايجو د اعلان سره سم د ډاکټر عبدالله ټيم په ټاکنو کی د درغليو ادعا وکړه او خپل بری يی اعلان کړ، دوی تهديد وکړ چی دولت به نسکور او خپل دولتي زعامت به وټا کي. د عبدالله د ټيم له خوا د دی دريځ له نيولو وروسته په هيواد کی ټولنيز حالت د ګډ وډۍ سره مخامخ شول، د متحده ايالاتو مرستندوی اداری و ويل چی که د ټاکنو موضوع په قانونی توګه حل نه شی، دوی به په افغانستان کی خپل ټول فعاليتونه په ټپه ودروي. د متحده ايالاتو د جمهور ريس سره د دواړو ټيمونو د مشرانو د ټيلفوني خبرو نه وروسته، د متحده ايالاتو د خارجه چارو وزير جان کيری افغانستان ته سفر وکړ، د جمهور ريس حامد کرزی او په ټاکنو د نړيوالو مؤسسو د څارونکو د مشورو له مخی د ټولو رايو د بيا شميرني وروسته بي له دی چی نتايج ولس ته اعلان شی، د دواړو ټيمونو د موافقي په اساس د ملی يوالی حکومت جوړ او اعلان شی. د ډاکټر عبدالله ټيم تر آخره په دی ټينګار کاوه چی دوی ټاکني ګټلي دی او بايد د حکومت جوړولو اختيار ولری، خو څه ګټه يی ونه کړه او بلاخره د سپتمبر په مياشت کی دواړو لورو د ملی يوالي د حکومت د جوړيدو سند په دی توګه امضاء کړ چی ډاکټر اشرف غنی به جمهور ريس او ډاکټر عبدالله به د اجرائيه ريس (صدراعظم) په توګه دنده ولری.

دا د افغانستان په ټول تاريخ کی لومړی وار و چی په سوله او دموکراتيکه توګه د يوه لاس نه بل ته د قدرت انتقال صورت نيسی.

د همدی کال د اپریل د میاشتي ولایتی ټاکني هم د درغلیو د ادعاګانو او غیر قانوني اعمالو د سرته رسیدلوله کبله د اکتوبر د میاشتی پوری و ځنډیدی. د اکتوبر په میاشت کی د (۲۵۹۰) تنو کاندیدانو له منځ څخه (۴۴۸) تنه د ولایاتی شورا ګانو د ګټونکو په توګه اعلان شول. د ټاکنو خپلواک کمسیون د ناقصو او باطلو رایو د معلومولو د پاره څلور میاشتی کار وکړ ترڅو یی وکولای شول چی د شپږو ملیونو ټولو رایو څخه (۷۴۷۰۰۰) باطلی رایي را بیلی کاندی چی په نتیجه کی (۴۷) هغه کاندیدان چی بایللی اعلان شوی ول ګټونکی و پیژندل شول.

ب ـ په سیاسي چارو کی برخه ا خستنه: په افغانستان کی د قانون له مخی د مستحقو کسانو د مستقیمو رایو په ورکولو سره ټولو انتخاباتي مقاماتو ته لاره پیدا کولی شي. په دی هیواد کی سیاسی ګوندونه په ډیره ټیټه سطحه کی قرار لری او ځنی داسی ګوندونه هم شتون لری چی په هیواد کی د موجودو قوانینو نه  یا خبر نه لري او یا هم په خپلو کړو وړو کی هغه په پام کی نه نیسي، نو همدا د دی سبب شویدی چی هر انتخاباتي پوست یا څوکی ته اشخاص او افراد په انفرادی توګه ځانونه کاندیدوی او د خلکو نه د رای ورکوني غوښتنه کوی. له بلی خوا داچی اکثراً دولتي مامورین او مؤظفین خصوصاً دهیواد په اطرافی سیمو کی د دولت د مخالیفینو د حملو او ګواښ سره مخامخ کیږی نو له همدی کبله د دولت سره کارکولو او همکاری ته څوک زړه نه ښه کوی او په مجموع کی په سیاسي چارو کی د خلکو د ګډون برخه ډیره کمه  او ضعیفه ده.

ډاکټر اشرف غنی د خپل ماموریت په دوهمه ورځ د امریکا سره د دوه اړخیزو همکاریو تړون لاس لیک کړ او د (۲۰۱۴) کال نه وروسته یی هم د متحده ایالاتو نظامي حضور ته په افغانستان کی قانونی بنه ورکړه. د دی لوظ نامې له مخي به د متحده ایالاتو (۱۰۸۰۰) تنه نظامي پرسونل  د (۲۰۱۵) کال د پیله پوري د افغان پوځیانو د روزنې د پاره پاتی کیږی او د (۲۰۱۶) کال پوری به دا رقم نیمایی ته را ښکته کیږی. د دی تړون له مخی به د امریکا نظامي پرسونل د ښوونیزو و ظایفو تر څنګ د ځینو نظامی مرکزونو ساتنه هم کوی. دا نظامي پرسونل د هیڅ جرم د ارتکاب په صورت کی د افغانستان د قوانینو په اساس نشی تعقیب کیدلي.

جمهور ریس اشرف غني د ناتو د سازمان سره هم ورته تړون لاس لیک کړیدی چی د نظامی ټولګیو تر وتلو وروسته د ځینو مهمو چارو د سره رسولو د پاره به (۲۰۰۰) تنه پرسونل به هیواد کی پریدی او افغان نظامیانو ته به مرستي رسوی.

ج ـ د دولتی وظایفو سرته رسول: د اشرف غنی او عبدالله د ملی یوالي دولت ونه توانیده چی د (۴۵) ورځو په اوږدو کی د حکومت کابینه جوړه او په کار پیل وکړی، همدا ناتواني د دی سبب شوه چی له هماغه لومړی وخت نه د دی دولت کاری قابیلیت د پوښتني لاندی راولي. فساد، واسطه او خپلولي پالنه، ملګرتیا او د نورو ډول ډول اړیکو پالل او ساتل په ټولو ساحو کی د دولت دسالمو کړو وړو مخه ډب کړله، د دولتي مامورینو د معاشاتو کموالي د ټولنیز فساد دزیاتیدوسره مرسته وکړه او د نړیوال شفافیت د اداري د راپور له مخی افغانستان په (۲۰۱۴) کال کی د (۱۷۵) هیوادونو په منځ کی (۱۷۲) ځای ونیوه، یعني په ټوله نړۍ کی افغان دولت دریم مفسد دولت و بلل شو. په دولتي ادارو کی د فساد لوړې کچي د امنیت او د ټولنیز پرمختګ په ټولو اړخونو اغیزه وکړه او د نړیوالو مرسته رسونکو ټولنو او مؤسسو سره یی زیات تشویشونه را پیدا کړل. د نړیوالو دی اندیښنو افغان دولت مجبور کړ چی په دی برخه کی کوټلي ګامونه پورته کړی او د فساد سره مبارزی ته تر بل هرڅه نه لومړیتوب ورکړي. لکه څنګه چی مخکی ورنه یادونه  وشوه، جمهور ریس اشرف غنی د دی د پاره چی په نړیوالي ټولني کی د بیا باور کولو روحیه را ژوندۍ کاندی، د اکتوبر په میاشت کی یی د کابل بانک ترل شوی دوسیه بیا را خلاصه کړه او د تحقیق کولو امر یی صادر

کړ. د (۸۵۰) ملیونو ډالرو د اختلاس په برخه کی د (۱۸) تورنو کسان په مربوطه دوسییو باندی د څارنوالی او څانګړي محکمي له خوا د سرنه غور وشو. د کابل بانک پخوانئ رئس د ( ۲۳۷) ملیونو ډالرو په تادیه کولو او پنځه کاله بند چی وروسته په بله محکمه یی د بند موده پنځلسو کلونو ته وغزیده محکوم شو. محکمي د پخواني جمهور رئس حامد کرزی د ورور بانکي حسابونه هم کنګل کړل او په همدی ډول یی ډیر ژر په دی اختلاس کی شریک پنځه نور تورن کسان هم ونیول.

د لمړی برخی پای

دوام لری

Ariana Afghanistan Online